مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۰۶

# بې ځایه غرور

## (د ماشومانو لپاره کیسه)

په پخوا زمانو کې غوایان هم لکه نور صحرایي حیوانات په ځنګلونو کې اوسېدل، د اوس غوندې به انسانانو یوې نه وربانديې کوله او ازاد به ګرځېدل. یوه ورځ یو غویی د سیل او ساعتیري لپاره له ځنګله څخه راووت او یوه نږدې کلي ته ولاړ چې یو خر په مخه ورغی . خر ډېر ډنګر او په بد کې حال و . غوایي د خره دې حالت حیران کړ او پوښتنه یې ترې وکړه :
ولې داسې ډنګر او په بد حال کې یې؟ د خره له خولې یو سوړ اسوېلی وایست او ویې ویل : هی هی مه مې پوښته، که ما وپوښتې نو و به وتښتې، زما له حاله دې خدای مه خبروه. غویی نور هم حیران شو، بیا یې ځنې وپوښتل : زړه مې ډېر درباندې وسوځېده ،څه خبره ده ولې داسې یې؟ خره په خواشینۍ ورته وویل : انسان پر ما باندې هره ورځ بارونه وړي، په کومه ورځ چې بار نه وي، نو له بل خره سره مې تړي او ځمکه راباندې یوې کوي.
غوایي چې د خره خبرې واورېدې هک حیران شو . له ځانه سره یې وویل چې دا انسان څومره زور ور دی چې پر دې خره خوارکي دومره ظلم کوي . خره ته یې مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل : دا انسان نو څه شی دی، ته درځه ما ته یې را وښیه چې زه ورسره جوړ شم . له دې خبرې سره سم خر او غویی دواړه د کلي پر لوري روان شول .
کلي ته چې وره سېدل نو یو بزګر یې ولید چې په کرونده کې کار کاوه . خره غوایي ته وویل : دغه دی انسان چې په موږ دومره زیات کارونه کوي. غوایي چې انسان ولید په غرور سره یې خره ته وویل : تاسې خرونه څومره بې غیرته یاست چې دا کمزوری انسان پر تاسې ظلم کوي او تاسې یې امرونه منئ. غویی بزګر ته ورغی او ورته ویې ویل : ته ولې پر دغو خرو خوارانو دومره ظلم کوې او درانده بارونه پرې وړې؟ بزګر ورته وویل : بس نو دا د دنیا ژوند دی، خر خو خدای (ج) د همدغو کارونو لپاره پیدا کړی دی. دا خبره سمه ده چې موږ پر خرو بارونه وړو خو دوی ته واښه او خواړه هم ورکوو او ښه یې ساتو.
غوایي د بزګر خبرې نه منلې او په قهر قهر یې ورته کتل . وروسته یې ورته وویل : ته چې ځان ته دومره زورور وایې نو راشه له ماسره زور معلوم کړه. بزګر وخندل او ویې ویل: زه انسان یم او ته حیوان، زما اوستا زور خدای نه دی سره برابر کړی، زور ازمایلو ته هیڅ اړتیا نشته . غوایي دبزګر خبره نه منله ، په غوصه یې وویل : نه نه، راشه له ماسره زور وازمایه ، که ته زوره ور شوې زه هم ستا تابع کېږم او که زه زورور شوم، نو خر به ازادوي او کار به نه پرې کوې.
لنډه دا چې غوایي د بزګر ځواب ته ونه کتل او خپل غټ غټ او تېره ښکرونه یې بزګر ته اړم کړل، خو بزګر له عقل او پوهې څخه کار واخیست. یوه لوړ ځای ته وخوت چې هلته د غوایي ښکرونه نه شوای وررسېدای. له هغه ځایه یې په خپل بېل غویی څو واره پر ښکرونو وواهه. لږ شیبه وروسته غوایی پر ځمکه څملاست او بزګر ته یې وویل چې بس ده زه نوره جګړه نه کوم.
له دې سره سم بزګر هم پړی یا رسۍ را واخیسته د غوایي تر ښکرونو یې را تاو کړه او ټینګ یې وتاړه چې له هغې ورځې راهیسې غویی دانسان تابع شو او تر اوسه یې تابع دی .

علم گل سحر
۲۳/ ۶/ ۱۳۷۷
څارندوی مېنه، کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ